PROPERTY OF ACKU

DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۸۷۹

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

لسم کال - دویمه دوره، ۸۷۹ مه ګڼه، پر له پسې ۱۹٤٦ ګڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د تلې ۵ مه - د دوشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د شوال المکرم ۱۸ مه ۲۰۱۰ د سپتمبر ۲۷ مه

مسوول یک محل رایدهی در سرپل کشته شد

افرادمسلح ناشناس شب گذشته در مرکز ولایت سرپل، یک کارمند کمیسیون انتخابات را کشتند.

لوی پاسوال محمدبلال نیرم قوماندان امنیهٔ سرپل دیروز گفت که این رویداد، شب گذشته درمنطقهٔ بوغاوی ازبکیه، مربُوط مرکز ولایت به وقوع پیوسته است. موصوف افزود که دو فرد مسلح ناشناس به منزل ملااحمد، یکتن از کارمندان کمیسیون انتخابات داخل شده و ص۳

استراتیژی های تقویت پارلمان جدید در افغانستان ...؟

ولسي جرګه در طول پنج سال گذشته، در پهلوی دستاوردهای اندکی که داشت، دارای نقایص و کاستی های زیادی نیز بود.

اینکه ولسی جرگهٔ آینده با چه پلان کاری به کارش آغاز خواهد کرد و در روشنایی کدام تجارب عمل خواهد کرد، این مساله یی است که در این روزها مطمح نظر اکثر مردم است. مردم می خواهند، در آینده صاحب پارلمان کارا و موثر باشند، پارلمانی که از توانایی های بالای تصمیم گیری برخوردار و تن به معامله گری های سیاسی و پشت پرده ندهد، پارلمانی که بتواند، مشکلات، دردها و رنج های مردم را به صورت بهتر به گوش دولتمردان رسانده و در حل آنها کوشا باشد و بالاخره، پارلمانی که از مهارت های تخصصی بهتر برخوردار، تا بتواند از عهدهٔ امور تقنینی به صورت درست سر برآورد.

صالح محمد سلجوقی، منشی ولسی جرگه در این مورد می گوید، استفاده از تجارب پارلمان کنونی افغانستان در پارلمان بعدی را یکی از استراتیژی های تقویت پارلمان جدید است. وی افزود پارلمان کنونی در قانون‌گذاری و روند تصویب قوانین موفقیت ۹۵ درصدی داشته، اما در بخش نظارت بر اجرا و ارایهٔ طرح‌های مناسب در عرصه‌های مختلف، توفیقات چندانی را به دست نیاورده است. سلجوقی، عدم حضور نماینده گان در بیشتر جلسات و به دنبال آن معلق ماندن قوانین و بی‌توجهی دولت نسبت به مصوبات پارلمان را از چالش‌های جدی پنج سال فعالیت پارلمان کنونی قلمداد کرد. وی تصریح کرد، اعضای ص۳

د اتو نورو ولایتونو قسمي پایلې هم اعلان شوې

پرون د افغانستان د ټاکنو کمېسیون بیا د څو نورو لایتونو د څو سلنې رایو پایلې چې دوی ورته قسمي پایلې وایي اعلان کړي.

له دې سره ټول هغه ولایتونه چې تر دې مهاله یې د شمېرل شویو رایو د پایلو لړ سلنه اعلان شوې ۱۱ ته ورسېدل. د ټاکنو کمېسیون خلکو ته ډاډ ورکړ چې ټولې رایې به سمې شمېرل کېږي او د شته شکایتونو له ارزولو وروسته به وروستۍ پایلې اعلانوي. دا دویم ځل دی چې دوړې د اوویشتمې له ټاکنو یوه اونۍ وروسته د یو شمېر ولایتونو د شمېرل شویو څو سلنې رایو پایلې اعلانېږي.

د پنجشنبې پر ورځ د ټاکنو کمېسیون د پنځه‌شپږ کاپیسا او پروان ولایتونو قسمي پایلې اعلان کړې وې. د یکشنبې پر ورځ د ټاکنو د کمېسیون مشر فضل احمد معنوي وویل چې دوی به پخپله ویښپانه کې د کونړ، لغمان، بامیان، دایکنډي، لوګر، خوست، جوزجان او فریاب د څو سلنې رایو پایلې هم اعلان کړي: "کاپیسا ۵۱ اعشاریه یو فیصد ده چې قسمي پایلې به یې د ټاکنو د کمېسیون په ویښپانه کې خپرې شي، پروان ۴۱ اعشاریه درې فیصده ده، دغه شمېره تېره ورځ شاوخوا ۲۲ فیصده وه، وردګ ۱۸ اعشاریه اته، دخوست هم ۱۸ اعشاریه اته فیصده دي چې د کمېسیون له تصویبه وروسته به خپرېږي، د کونړ ۲۸ اعشاریه نهه فیصده، لغمان ۳۲ اعشاریه دوه فیصده ده، او په همدې ترتیب هغه سلنې چې مورِ لرو یوازې د پنجشیر نوي په سلو کې قسمي پایلې اعلانېږي او نور ټول ولایتونه چې تر اوسه پورې پروسس شوي سلنه یې تر ۵۰ لوړه نه ده، مورِ تمه لرو چې سبا او بله ورځ وکولای شو د نورو ولایتونو قسمي پایلې هم خپرې کړو." د غه راز د ټاکنو کمېسیون وویل چې له هرات، تخار، بغلان، نورستان او پروان پرته د نورو ولایتونو څخه د ټاکنو او رایو اړوند توکي کابل ته را رسېدلي دي. که څه هم د ټاکنو کمېسیون ومنله چې دوړې پر اووه ویشته د ولسي جرګې د ټاکنو په ۶۲۰ مرکزونو کې درغلۍ، لاسوهنې او تېروتنې شوې دي خو ۳مخ

یوه برېتانوی کارکوونکې وتښتول شوه

ناپېژاندو وسلوالو په کونړ ولایت کې د دې ای ایې په نامه د یوې امریکایي موسسې یوه بهرنۍ کارکوونکې له درې افغان کارکوونکو سره وتښتوله.

د کونړ دامنیه قوماندانۍ مرستیال مل پاسوال عبدالصبور الله یار د تلې پر ۴مه وېل چې یاد شوي کسان له غرمې مخکې پر یوولسو بجو تښتول شوي دي. هغه زیاته کړه چې یاد شوي کسان پرته له دې، چې پولیس په جریان کې کړي، له جلال اباد ښار څخه اسعد اباد ته روان شوي وو، چې د کونړ د څوکۍ وسلوالۍ د سپین جومات په سیمه کې وسلوالو طالبانو وتښتول.

د نومورې په وینا، په تښتول شویو کسانو کې د لنډا په نامه د ۳مخ

طالبان:

ګڼ شمېر پولیس راتسلیم شوي



د وسلوالو طالبانو مطبوعاتي سرچینې ادعا کوي چې په تېرو دوو ورځو کې یوولس پولیس ورتسلیم شوي دي، چې خپلې ځینې وسلې او مهمات یې له ځان سره لرل.

تاند ته د طالبانو د ویاند ذبیح الله مجاهد په نامه را رسېدلي بر ېښنالیک کې ویل شوي چې ورځمه ورځ په لوګر کې اووه افغان عسکر دوی ته تسلیم شوي، چې نومونه یې په دې ډول ښوول شوي:

ګل باران دعبدالله خان زوی، تراب د شیرمحمدزوی، حلیم د عقل الدین زوی، کتف د حسن خان زوی، جمعه ګل دلعل محمدزوی، شین ګل د سلام خان زوی او سلطان جان د رشید زوی.

مجاهد ادعا کوي چې له دغو پولیسو سره په زیاته اندازه وسله هم موجوده وه. بل پلو مجاهد وایي چې دوې ورځې مخکې د غزني په مقر ولسوالۍ کې هم ۴ پولیس له ۲ رنجر موټرو او یوه اندازه وسلو سره طالبانو ته ورتسلیم شوي دي.

د کورنیو چارو وزارت ویاند:

د میاشتې سل افغان پولیس وژل کېږي

په تېرو شپږو میاشتو کې ۵۹۵ پولیس وژل شوي او ۱۳۴۵ نور ټپي‌ان دي

افغان چارواکو پرون وویل چې په تېرو شپږو میاشتو کې له وسله والو طالبانو سره په جنګ کې شاوخوا دوه زره افغان پولیس وژل شوي یا ټپیان شوي دي.

د کورنیو چارو وزارت ویاند زمري بشري وویل، په اودنو، ځانمرګو بریدونو، مخامخ جګړو او پوځي عملیاتو کې ۵۹۵ پولیس وژل شوي او ۱۳۴۵ نور ژوبل شوي دي. بشري وویل: «په تېرو شپږو میاشتو کې ۵۹۵ پولیس وژل شوي او ۱۳۴۵ نور ټپیان شوي دي.» په افغانستان کې له پولیسو څخه د ښارونو د عامه نظم او امنیت ساتنې پر ځای له وسلوالو طالبانو سره د جګړې لپاره په داسې حال کې کار اخیستل کېږي چې نه سم روزل شوي او نه د منظم حربي قوت په شان وسلې او تجهیزات لري. ۳مخ



پر دیموکراسۍ د خلکو باور ته زیان مه رسوئ!

۲

د لوی او بښونکي خدای ج په نامه

سرمقاله

د کندهار تازه عملیات، زړې اندېښنې او نوې پوښتنې

دا دی بلاخره د کندهار هیوادلویي پوځي عملیات چې له میاشتو میاشتو راهیسې یې ډنډورې وهل کېدې، پیل شول. د ناټو ځواکونو سرچپنې پرون اعلان وکړ، چې د دوی ځواکونو د کندهار ښار په اطرافي سیمو کې خپل دغه پوځي عملیات پیل کړي. د ناټو د ځواکونو د معلوماتو له مخې، د دغو عملیاتو په بهیر کې چې دمګړۍ یې محوري کرښه د کندهار ژېړی وسلوالي ده، تراوسه پورې پنځه تنه وسلوال مخالفین وژل شوي. دغه منابع ځرګندوي، چې دغه عملیات به په سیمه کې تر هغه دوام ولري، ځو د مخالفو وسلوالو هسته له منځه نه وي تللي.

په هر حال، د سولې او امن د ټینګښت لپاره ډېرې او بېلابېلې لارې چارې شته، ځوک د زور په مرسته او ځوک هم د سیاسي کړنلارو ځخه په ګټه اخیستنه، دغه مامول ترلاسه کېدو ته لېوالتیا لري. خو دغه خبره باید هېره نه کړو، چې د سولې د ټینګښت په موخه په ناسوله ییزو لارو باندې لکه د پوځي عملیاتونو په لاره اچول، جنګ جګړې او داسې نورو باندې اتکا، نه یوازې په افغانستان بلکې په ګرده نړۍ کې د اغېزمنې نسخې، د داسې یوې نسخه په توګه چې متداومې مثبتې پایلې ولري، کار نه دی ورکړی. کېدای شي، پر پوځي تګلارو او لارو چارو باندې تمسک، یو ځه موده ستونزې راتم او هدف ترلاسه شي، خو دا خبره ټولو ته جوته ده، چې دغه لرې هېڅکله هم اوږدمهالې او اغېزمنې پایلې نه دی لرلي، بلکې تر هغه وروسته وضعیت لاپسې کړکېچن او خوړین شوی، چې ښه ښېلګه یې د مارچې ستر پوځي عملیات وو، چې له میاشتو میاشتو ورته تابیاوې نېول کېدې، عسکر او تجهیزات ورته برابرېدل. د مارچې په عملیاتو کې نړیوالو او افغان ځواکونو وکولای شول، چې د مارچې د ولسوالي ودانۍ فتح کړي او هلته د افغان دولت توغ ورپوي، خو دا ټولو ته ښکاره ده، چې هغوی د خلکو د زړونو په فتح کولو کې پاتې راغلل. د نویو رپوټونو پر بنسټ، د مارچې اوسنی وضعیت اوس هم لکه د پخوا په شان کړکېچن او له کنټرولې وتلی، دولت یوازې د ولسوالۍ پر ځو ودانیو واکمني لري او پر پاتو سیمو د مخالفو وسلوالو راج چلېږي. داسې ښکاري، چې د کندهار پوځي عملیات هم د مارچې د پوځي عملیاتو پر ستراتیژیو او کړنلارو متکي پیل شوي او پایلې به یې هم د مارچې تر عملیاتو کره، اغېزمنې او باوري نه وي.

بل پلو، د کندهار د تازه عملیاتو په تړاو نورې بېلابېلې انګېرنې او پوښتنې هم رابرسېره کېږي، تر ټولو مهمه خبره دا ده، ځو میاشتې مخکې، چې کله د دغو عملیاتو اوازه ډېره توده وه، ورسره د کندهار یانو اندېښنې هم د زیاتېدو په حال کې وې، ولسمشر کرزي په یو ناڅاپي سفر کندهار ته لاړ او هلته یې له کندهاري سپین ږېرو او قومي مشرانو سره یوه غونډه وکړه. ولسمشر کرزي، په دې ناسته کې له کندهاریانو سره ژمنه وکړه، چې د کندهار عملیات به تر هغه نه پیلېږي، ځو ده د خلکو د ژوند او مال د خوندیتوب په هکله ډاډ نه وي ترلاسه کړی او دغه عملیات به د کندهار د خلکو په خوښه پیلېږي، اوس مهمه پوښتنه، چې دلته راپورته کېږي، دا ده، چې آیا په دغو عملیاتو کې به د ملکي خلکو ژوند خوندي وي، آیا دغه عملیات به د افغان دولت د چارواکو په هوکړه او له کور نیو ځواکونو سره په همغږۍ سره ترسره کېږي؟ او آیا داسې تضمین ځوک ورکولای شي، چې په دې عملیاتو کې به د ملکي وګړو د مرګ ژوبلو مخنیوی کېږي؟ دا او دې ته نورې هغه پوښتنې دي، چې لاتراوسه چا ورته روښانه ځواب نه دی ورکړی.

پر دیموکراسۍ د خلکو باور ته زیان مه رسوئ!

روښان علمي

له یوې اوږدې او ډاروونکې تیارې وروسته موږ افغانانو ته یوځل بیا دا زمینه برابره شوې ده چې خپل استازي پخپله وټاکواو دادی ځو ورځې د مخه مو د ولسي جرګې د دویم پړاو انتخابات هم ترسره کړل.

د طالبانو له ماتې وروسته له دیرش ځلویښتو کلونو وروسته دا لومړی ځل و، چې پنځه کاله دمخه زموږ خلکو ولسي جرګې ته خپل استازي وټاکل. زموږ خلکو هم د ولسي جرګې د لومړۍ دورې په ټاکنو او هم د جمهوري ریاست په لومړیو ټاکنو کې په ډېره مینه او پراخه پیمانه ګډون وکړ. له ځینو ستونزو سره سره چې لا هماغه وخته هم موجودې وې، د خلکو دا ډول پراخ ګډون زموږ په زړونو کې دې هیلې ساه ورکوله، چې زموږ خلک نور په هغو پخوانیو لارو نه ځي، زموږ خلکو اوس په واک کې د ګډون مدني او دیموکراتیکې لارې لټوي، نور خلک نه غواړي چې د تخت ګټلو په لاره کې یې وینې تویې شي او نور زموږ خلک نه غواړي مسایل له جګړه ییزو او قهرجنو لارو حل کړي. خلکو هغه وخت هم نه د ولسمشر لپاره او نه هم د کوم بل شخص لپاره په ټاکنو کې ګډون وکړ، بلکې هغوی د دغه بهیر لپاره په ټاکنو کې په دومره پراخه پیمانه ګډون وکړ. او دا یې ثابته کړه چې زموږ خلک له سوله ییزو او مدني لارو د مسلو په هواري باور لري او هېڅکله د زور او تاوتریخوالو پلویان نه دي.

خو د ولسي جرګې په دغو وروستیو ټاکنو کې د خلکو ونډه لکه څنګه چې لازمه وه ډېره نه وه، که په ځینو سیمو کې امنیتي ستونزې وې او خلکو نه شوای کولای د ټوپکمارو او د زور اوظلم د پلویانو له ویرې په ټاکنو کې ګډون وکړي، خو داسې ځایونه هم وو، چې پکې امنیتي ستونزې نه وې، خو بیا هم د رایه ورکوونکو شمېر هلته ډېرلږ و، په کندهار کې ولسي جرګې ته یوه کاندید له رسنیو سره په مرکه کې وویل چې د کندهار ښار په مهمو ټاکنیزو مرکزونو کې د رایو شمیر ایله بیله اتیا او سلو ته رسېده. ویل کیږي هلته خلک مایوسه دي، د هغوی ستونزو ته توجه نه کیږي او ډېرو یې په اوسني بهیر خپل باور بایللی دی، په کابل کې هم حالت تر دې بهتر نه و. داچې ولې داسې کیږي او ورځ په ورځ د خلکو د لیوالتیا کچه ټیټېږي، هغه څه دي چې باید ورته توجه وشي.

یو علت یې په ټهرو او اوسنیو ټاکنو کې د پراخو درغلیو موجودیت دی، چې خلک یې مایوسه کړي دي. د ولسي جرګې د دویم پړاو په ټاکنو کې د پراخو درغلیو شتون د خلکو مایوسي نوره هم پسې زیاته کړه. له یوه ټلویزیون سره یوه رایه ورکوونکي په مرکه کې وویل چې خپل د رایې ورکولو کارت یې وروسته له هغه چې د رایې ورکولو په مرکز کې یې درغلي او د زورواکو لاسوهنه ولیدله، د خلکو په مخ کې ځیرې کړ. ده وویل کله چې مې ولیدل زموږ رایو ته ارزښت نه ورکول کېږي او هرځوک د خپل زور په اندازه درغلي کوي، نو دا کارت مې څه په درد خوري.

د وړې پړاوه ویشتمه نېټه د ماسپښین پر دوو بجو سبا ټلویزیون له یوه مرکز ځخه رپوټ درلود په رپوټ کې یې ولسي جرګې ته دیوې کاندیدې ملالی اسحق زی د درغلیو مستند رپوټ درلود، هغې وویل خوب میکنم که تقلب میکنم.

آیا دا ډول ښکاره درغلي او په دیموکراتیکه پروسه کې له زور ځخه کار اخیستل دغه بهیر ته نه جبرانېدونکي زیانونه نه رسوي. له ولایتونو ځخه هم د درغلیو په اړه حیرانوونکي رپوټونه رارسېږي، چې په یوه محل کې دیوه کاندید په ګټه صندوقونه له رایو

۳مخ

افزایش قیمت تریاک و راهکار نوین مافیای جهانی مواد مخدر

تهیه: فرید بهیر

قیمت تریاک در مزارع جنوبی کشور، به مرز ۲۰۰ دالر در هر کیلو رسیده است.

در همین حال گفته می شود، میزان کشت کوکنار و چرس در افغانستان نسبت به سال گذشته که ۱۲۳ هزار هکتار بوده، تغییری نکرده است.

بر اساس آخرین آمارها و اطلاعات موجود، کشت موادمخدر در برخی از ولایت های کشور به میزان ۳۰ درصد افزایش و در برخی دیگر از ولایت ها کاهش یافته است. باید گفت، بیشترین افزایش کشت مواد مخدر در افغانستان مربوط به ولایت جنوب غربی از جمله قندهار، فراه، نیمروز و هلمند بوده است.

پیش‌بینی می‌شود، با توجه به شیوع آفتی که در مزارع افغانستان در زمین‌های زراعتی تحت کشت کوکنار رخ داده است، ۵۰ درصد تولیدات مواد مخدر کاهش یابد. ضمن اینکه ۴۴ درصد مناطق تحت کشت کوکنار در بخش جنوبی کشور دچار آفت زراعتی شده‌است و به همین خاطر، تریاک در افغانستان به مرز ۲۰۰ دالر در هر کیلو رسیده است.

در واقع، این افزایش قیمت در مادۀ مخدر تریاک باعث می‌شود، در سال آینده سودجویان و مافیای مواد مخدر نسبت به افزایش کشت به منظور جبران خسارت‌های وارده اقدام کنند که به دنبال آن الگوی مصرف نیز، در بعضی از کشورها تغییر خواهد کرد، بدین صورت که الگوی مصرف از مواد سنتی به مواد پرخطر سنتی و صنعتی تبدیل خواهد شد و نیز مافیای جهانی مواد مخدر از این روند، منفعت بیشتری را به جیب بزنند. متاسفانه انتظار می‌رفت، طرح‌های امحای کشت مزارع کوکنار در افغانستان توسط مسوولان امور و جامعۀ جهانی، به اجرا درآید که بر اساس آخرین معلومات؛ فقط ۲ هزار و ۵۰۰ هکتار از مزارع کشت، امحاء شده است که نسبت به امحای مزارع کشت در سال‌های گذشته، دارای افتی چشمگیر بوده است و دلایل آن نیز مشخص نیست.



پر دیموکراسی د خلکو...

ډک شوي دي. که خدای مه کړه داسې وي او دا حالت دوام وکړي او درغلګرو ته جزا ور نه کړل شي، دغه دیموکراتیک بهیر به سخت زیانمن شي.

وروسته له دې به خلک پر دیموکراسی بې باوره شي او خدای مه کړه بیا به دتاوتریخوالو پخوانیو لارو ته تمایل پیدا شي.

دولت او دټاکنو خپلواک کمیسیون باید دغو مواردو ته پاملرنه وکړي، د ولسي جرګې د دویم پړاو په ټاکنو کې درغلۍ وڅېړي او د خلکو او شکایت کوونکو اندېښنو ته قانع کوونکی ځواب ووایي. که داسې ونه شي د پراخو درغلیو شتون به زمور خلک نور هم مایوسه کړي او بیا به په راتلونکو ټاکنو کې د ولس دګډون کچه تر دې هم لږه وي. خلک به له دیموکراسی او له سوله ییزو او مدني لارو ځخه د مسایلو په حل خپل باور له لاسه ورکړي او د نورو او خدای مه کړه جګړه ییزو او کودتایي لارو په لټه کې به شي.

د میاشتې سل افغان...

په عین حال کې عام افغانان پولیسو ته د یوه بې دسپلینه او پر فساد ککړ ځواک په سترګه کتل ګوري. په وروستیو کې نړیوالې ټولنې د دې لپاره چې غواړي د افغانستان د امنیتي او جنګي چارو مسوولیت افغانانو ته وسپاري، د پولیسو روزلو ته پام زیات کړی دی.

د امریکا متحد ایالتونه په ځانګړې ډول پر افغان امنیتي ځواکونو (پولیسو او اردو) زیات مصرف کوي، څو تر ۲۰۱۴ پورې دغو ځواکونو ته د امنیتي چارو مسوولیت وسپاري.

د ناټو ترمشرۍ لاندې د افغان امنیتي ځواکونو د روزنې په پروګرام کې تراوسه پورې ۱۳۶۰۰۰ (یولکوشپږ دېرش زره) عسکر او یولکو نولس زره شپږ سوه پولیس روزل شوي. دوی وایي چې د راتلونکي (۲۰۱۱) کال تر نومبره به د ملي اردو د روزل شویو عسکرو شمېر یولکو اویا زره شپږ سوو او د پولیسو یولکو څلور دېرش زرو ته ورسوي. د امریکا متحد ایالتونه او د ناټو نور غړي هېوادونه په افغانستان کې شاوخوا یو نیم لیک پوځیان لري، خو داسې ښکاري چې دوی د خپلو ځواکونو د شمېر له زیاتولو سره سره د افغانستان د روانې جګړې د انډول په بدلولو کې پاتې راغلي دي.

د افغانستان د کورنیو چارو وزارت په جولای میاشت کې ویلي وو، چې په جګړه کې د وژل کېدونکو پولیسو د تشې د ډکولو لپاره سیمه ییز پولیس ځواک جوړوي. د دې ځواک، چې عام ولس ورته اربکي وایي، جوړېدا داسې اندېښنې زېرولي چې ممکن وروسته په یوې بلې خپلسرې ملېشه قوې بدل او د عام ولس د ځورولو سبب شي. د تاند دراپور له مخې، د کورنیو چارو وزارت ویاند ښاغلي بشري پرون په دې باب وویل د قومي مشرانو او د سیمه ییزو شوراګانو په مرسته او همکارۍ به په نهایت کې په ټول افغانستان کې لس زره سیمه ییز پولیس تشکیل کړي. دوی ته به درې اونۍ روزنه ورکړای شي او تر عادي پولیسو به یې معاش څلوېښت فیصده کم وي. ده همداراز وویل چې د دې ځواک دنده به یوازې او یوازې د طالبانو په وړاندې دفاع وي. یعني دا ځواک به په طالبانو پسې غرو رغو ته د عملیاتو لپاره نه وځي، خو که طالبان کوم کلي یا سیمې ته ننوځي نو دوی به یې مخه نیسي.

یوه بریتانوی کارکوونکي...

دې ای ایي امریکایي موسسې بریتانوی کارکوونکي، د هغې ساتونکی، موټر چلوونکی او یو بل افغان شامل دي. الله یار وایي چې دغه کسان په دوو شخصي کرولا موټرو کې روان وو، چې وتښتول شول. یوې بلې امنیتي سرچینې، چې د نامه له څرګندولو یې ډډه کوله، پژواک اژانس ته وویل چې یاد شوي کسان د کونړ په نرنګ ولسوالۍ کې دکانال دیوې پروژې د پرانېستلو په مراسمو کې د ګډون په موخه روان شوي وو. یاده شوې پروژه د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختایي اداړې (یو اېس ای ایي ډي) په مرسته بشپړه شوې ده.

کشت زعفران در...

همکاری شوراهای محل انتخاب شده اند. موصوف اظهار داشت که بر اساس این برنامه، برای هر کدام از این دهقانان، ۲۰۰ کیلوگرام پیاز زعفران رایگان توزیع می گردد.

احمدی گفت که در حال حاضر، قیمت هرکیلو پیاز زعفران تولید هرات، ۲۵۰ افغانی و هرکیلو پیاز ایرانی ۱۵۰ افغانی می باشد. به اساس معلومات آمر ترویج زراعت هرات، پیاز خریداری شده توسط تیم بازسازی ولایتی ایتالیا، محصول هرات بوده و توزیع آن از ابتدای سنبلهٔ سال روانی که موسم کشت زعفران است، آغاز و تا اواسط میزان ادامه خواهد داشت. دهقانان کشت زعفران نیز، از حاصلات زمین های شان، اظهارخوشی می نمایند. عبدالجبار ۴۵ ساله باشندهٔ مرکز ولسوالی غوریان، یکتن از دهقانان در ولایت هرات می باشد؛ او سال قبل دو جریب زمینش را زعفران کشت کرده بود.

وی گفت: "حاصلات خوب بود. سال قبل از هرجریب، سه کیلو زعفران حاصل برداشتم."

به گفتهٔ عبدالجبار، امسال حدود ۲۰۰ غوزهٔ زعفران را نیز، به فروش رسانده است. زعفران یک گیاه نیمه گرمسیری می باشد و در مناطقی که دارای زمستان ملایم و تابستان گرم و خشک باشند، به خوبی رشد می کند. این گیاه، دارای خواص زیاد درمانی بوده و از آن برای ساخت انواع دوا، طعم دهنده و چاشنی غذا و در نوشیدنی های داغ استفاده می گردد. زعفران در اواخر ماه عقرب و اوایل قوس، به گل می نشیند و حاصل آن به طور معمول، صبحگاهان و قبل از طلوع خورشید، برداشته می شود. مسوولان زراعت هرات می گویند که این ولایت، به عنوان ولایت پیشتاز کشت و ترویج زعفران در کشور، توانسته است، به طور اوسط تولید اضافه از دو کیلو زعفران خالص درهر جریب، بیشترین میزان تولید در سطح جهان را داشته باشد. بنابر معلومات موصوف، سال گذشته هرکیلو حاصل زعفران در بازار داخلی، بین ۱۵۰ تا ۱۷۵هزار افغانی (معادل ۳۰۰۰ تا ۳۵۰۰ دالر) به فروش رسید و حتا در خارج از افغانستان نیز، بهتر از زعفران ایران که دارای شهرت جهانی است، به فروش رفته است. بنابه معلومات ادارهٔ زراعت هرات، در حال حاضر کشت این گیاه ارزشمند، از این ولایت به حدود نیمی از ولایات کشور توسعه پیدا کرده که در صورت رعایت اصول کشت، می تواند برای شمار زیادی از دهقانان کشور به ویژه زنان روستایی، زمینهٔ کار را فراهم سازد.

مسوول یک محل رایدهی...

وی را ازپا در آورده است. قرار اظهارات موصوف، ملااحمد از طرف اهالی منطقه به شفاخانه منتقل شد؛ اما در امتداد راه جان داد. امان الله فریادی رییس کمیسیون محلی انتخابات در سرپل، کشته شدن ملااحمد را تایید نموده است. نامبرده افزود که ملااحمد به روز انتخابات، به حیث مسؤول یک محل رایدهی مربوط مرکز این ولایت، ایفای وظیفه می کرد.

استراتیژی های تقویت...

جدید پارلمان که قرار است، برای پنج سال آینده تا حدود یک ماه دیگر وارد این مجلس شوند، از تجربهٔ دورهٔ کنونی پارلمان برای پیشبرد هر چه بیشتر کارهای قوه مقننه به درستی استفاده کنند. به گفتهٔ سلجوقی، تصویب نهایی مصوبات کمیسیون‌های پارلمان، تکمیل کابینهٔ دولت با دادن رای اعتماد به وزرا، انتخابات پارلمانی و مشکلات صورت گرفته در آن، مسایل امنیتی و فشار بر دولت در مورد اجرای قوانین تصویب شده از سوی پارلمان، از مهمترین فعالیت آخرین روزهای پارلمان فعلی افغانستان است. کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان اعلام کرد، نتایج نهایی انتخابات پارلمانی کشور را در تاریخ ۳ عقرب اعلام و ۲۴۹ عضو جدید وارد پارلمان جدید خواهند شد.

د اتو نورو ولایتونو...

خلکو ته یې ډاډ ورکړی چې په رای شمېرنه کې به تر ډېر غور وروسته پرېکړه کوي او د هېڅا حق به و نه خوړل شي. ښاغلي معنوي وویل د لاسوهنې او درغلیو د شک پر بنسټ به په لوګر، خوست، بدخشان او تخار کې د ځینو مرکزونو او محلونو رایې له سره شمېرل کېږي. د بي بي سي د راپور له مخې، ټاکنو کمېسیون وویل چې د رایو لومړنۍ پایلې به د تلې پر ۱۷مه او وروستۍ پایلې به یې د لړم پر ۹ او یا ۱۰ اعلان شي.

تقاضای امریکا از داکا:

بنگله دیش وارد عرصهٔ نظامی افغانستان شود

وزارت خارجهٔ بنگله دیش دیروز از درخواست امریکا از این کشور برای اعزام نیروهای رزمی به افغانستان خبرداد. به گزارش خبرگزاری فرانسه از داکا، امریکا این درخواست را در طول نشست هایی که در نیویارک بین دیپو مونی وزیر خارجهٔ بنگله دیش و ریچارد هالبروک نمایندهٔ ویژهٔ امریکا در افغانستان و پاکستان صورت



گرفته بود، مطرح کرده است.

طبق بیانیهٔ دولت داکا، هالبروک گفته است، امریکا به کمک کشورهای دوست نظیر بنگله دیش جهت تامین امنیت در افغانستان نیازدارد. دراین بیانیه آمده است: هالبروک خواستار هرگونه کمک نظیر استقرار نیروهای جنگی، عرضهٔ کمکهای اقتصادی و عمرانی یا آموزش کارکنان بخش‌های ملکی در افغانستان شده است. وزیرخارجهٔ بنگله دیش گفته است که درخواست امریکا را مورد بررسی قرار خواهد داد. کشور عمدتا مسلمان‌نشین بنگله دیش، نیروهای کمکی عمده یی را برای ماموریت های سازمان ملل در سراسر جهان اعزام کرده، اما تاکنون نیروی نظامی در افغانستان مستقر نکرده است.

دو سرباز آیساف به قتل رسید

سال جاری میلادی، خونین ترین سال برای نیروهای خارجی مستقر در افغانستان ثابت شده است،

تا حال ۵۳۶ سرباز خارجی در افغانستان کشته شده اند.

نیروهای بین المللی حافظ صلح (آیساف) به رهبری ناتو، از کشته شدن دو سرباز خود در جنوب افغانستان خبر دادند. این خبر در اعلامیه یی که دیروز از طرف دفتر مطبوعاتی نیروهای یادشده در کابل، به دسترس رسانه ها قرار گرفته، ذکر گردیده است.

در اعلامیه علاوه شده است که سربازان موصوف، صبح



دیروز در نتیجهٔ انفجار یک ماین در جنوب افغانستان، کشته شده اند. آیساف در مورد هویت سربازان کشته شده و محل دقیق رویداد، معلومات نداده است.

روز گذشته نیز، آیساف از کشته شدن سه سرباز خود در شرق افغانستان خبر داده بود.

سال جاری میلادی، خونین ترین سال برای نیروهای خارجی مستقر در افغانستان ثابت شده است .

تا حال ۵۳۶ سرباز خارجی در افغانستان کشته شده اند، که بیشتر آنها امریکایی و بریتانوی هستند.

این در حالی است که سال گذشته، ۵۲۱ سرباز خارجی در کشور به قتل رسیده بود.

کی مقصر است، کمیسیون یا یو ان دی پی؟

تهیه: عبدالعزیز شکوری

مسوولیت نپذیری و ناهماهنگی میان مسوولان کمیسیون مستقل انتخابات و موسسهٔ یو-ان- دی- پی ایلیکت (بخش انتخاباتی موسسهٔ انکشافی سازمان ملل متحد) احتمالاً منجر به خریداری دستگاه های بی کیفیت سوراخ کن در انتخابات ولسی جرگهٔ کشور گردیده است.

بی کیفیت بودن ماشین های سوراخ کن و پاک شدن رنگ ها از انگشتان رای دهنده گان از مشکلات عمدهٔ تخنیکی پروسهٔ رای دهی انتخابات ولسی جرگهٔ کشور به حساب می رود که شکایات و نگرانی های زیادی از نامزدان را در روز انتخابات ۲۷ سنبله سال روان در پی داشته است.

با آنکه مشکل کار نکردن شکاف کُن ها و پاک شدن رنگ ها از جمله مواردی است که در انتخابات سال گذشته نیز وجود داشت و کمیسیون مستقل انتخابات نیز قبل از برگزاری انتخابات پارلمانی چندین بار اعلام کرد که در مورد کیفیت موادِ یادشده، بی حد کوشش کرده است، اما به گفتهٔ نامزدان انتخابات ولسی جرگه باز هم همین موارد در انتخابات ولسی جرگه تکرار گردید.

سوال اینجاست که این ماشین ها چه اندازه هزینه برداشته و کدام نهاد، مسوولیت خریداری آن را به دوش داشته است؟ نور محمد نور، سخنگوی کمیسیون مستقل انتخابات می گوید: مسوولیت خریداری مواد انتخاباتی در انتخابات ولسی جرگه را موسسهٔ یو. این. دی. پی عهده دار بوده و کمیسیون تنها در قسمت ارایهٔ سفارش ها برای تهیهٔ مواد انتخاباتی نقش داشته است.

اما داکتر نیلاب مبارز، سخنگوی دفتر سازمان سیاسی ملل متحد در افغانستان (یوناما) طی مصاحبهٔ اختصاصی با رادیو کلید گفت: نهادهای برگزار کنندهٔ انتخابات، مراجع پاسخگو برای تخطی های انتخاباتی و مشکلات تخنیکی می باشند که در روز انتخابات ولسی جرگه هفتهٔ پیش، صورت گرفت. نورمحمد نور با آنکه می پذیرد که کمیسیون مستقل انتخابات در برابر مشکلات تخنیکی پیشامده در انتخابات ولسی جرگه مسوول وجوابگو است، اما می افزاید: تاکنون جزییاتی در مورد خریداری ماشین های سوراخ کن و رنگ انتخاباتی از سوی نهاد "یو. ان. دی. پی ایلیکت" دریافت نکرده اند.

از سوی دیگر، مسوولان کمیسیون شکایات انتخاباتی می گویند: شکایت هایی را مبنی بر بی کیفیت بودن ماشین های سوراخ کن دریافت نموده اند. احمد ضیا رفعت، یک عضو و سخنگوی کمیسیون شکایات انتخاباتی، می گوید: هنوز زود است که درمورد اینکه چرا از ماشین های بی کیفیت سوراخ کن در انتخابات ولسی جرگه استفاده شده، از سوی کمیسون شکایات انتخابی قضاوت صورت گیرد. از سوی دیگر، وحید عمر، سخنگوی رییس جمهور، از کمیسیون شکایات انتخاباتی خواست، به شکایاتی ــ که از ناحیهٔ ماشین سوراخ کن به کمیسیون رسیده است ــ رسیده گی نماید.

به گفتهٔ آگاهان امور سیاسی، عدم پاسخگویی مسوولان در این زمینه، اختلاس و فساد را در مورد خریداری مواد انتخاباتی ولسی جرگه نشان می دهد.

گفتنی است که برای برگزاری انتخابات ولسی جرگهٔ کشور، ۱۴۹ میلیون دالر امریکایی هزینه در نظرگرفته شده بود.

کشت زعفران در هرات رو به توسعه است



ساحهٔ کشت زعفران در هرات طی سال جاری با ۲۰ درصد افزایش، به بیش از ۱۸۰۰ جریب (۳۶۰ هکتار) رسیده است.

با آنکه زعفران حدود ۱۰ سال قبل با وارد کردن پیاز(غوزه) آن از ایران، در هرات ترویج و توسعه یافت، اما درحال حاضر، قیمت پیاز و حاصل زعفران از نوع ایرانی بیشتر است و مارکیت خوبی برای فروش دارد. در سال جاری نه تنها یکتعداد دهقانان ولسوالی های مختلف هرات، غوزهٔ زعفران را به خاطرکشت خریداری نموده اند، بلکه تیم بازسازی ولایتی ایتالیا در این ولایت، ۶۰ تن پیاز زعفران را برای توزیع رایگان به دهقانان نیز خریداری کرده است.

بشیراحمد احمدی آمر ترویج زراعت هرات، گفت که طی سال جاری حدود ۳۰۰ دهقان در هفت ولسوالی این ولایت، برای دریافت رایگان پیاز زعفران انتخاب شده اند.

به گفتهٔ وی، این دهقانان که مربوط ولسوالی های شیندند، گذره، انجیل، زنده جان، کهسان، کرخ و غوریان می باشد، به

ص۳

کنوانسیون حقوق اطفال
اووه ویشتمه ماده : ماشومان باید د ژوند له نبو شرایطو نه د فکري، جسمي، اخلاقي او ټولنیزې ودې لپاره برخمن شي .
مادهٔ بیست و هفتم: اطفال باید از شرایط خوب زندگی برای رشد فکری، جسمی، اخلاقی و اجتماعی برخوردار شوند.
این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۷۷۰۷۶۲۸ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې دسرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : نبي "پیاوړی"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Nabi "Paiwarry"
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com